



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ربښتونی پاچا

—— لنډه کیسه ——

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرلیک:** رېښتونی پاچا ـــ لنډه کیسه ـــ

**لیکنه:** عبدالرشید"صمد نجاب"

**ترتیبوونکی:** ارسلان همت

**پښتی ډیزاین:** ارسلان همت

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د رېښتونې پاچا کيسه:

يوه ورځ يو پاچا له خپل دربار څخه ووت تر څو د خلکو (رعيت) له وضعيت څخه ځان خبر کړي،

د خپلو ساتونکو او درباريانو سره ګوري چې په بازار کې ډېر خلک په خپلو کارونو بوخت دي،

پاچا يو سړي ته يې وويل:

زه در څخه يوه پوښتنه لرم سم ځواب به راکړې؛

سړي وويل: ولې نه پاچا صاحب.

آيا زما پاچاهي ښه ده که بده؟؟؟

سړي د پاچا صفتونه او ستاينې پيل کړې او وې ويل چې ستا پاچاهي ډېره ښه ده...

پاچا لومړی خبرو ته يې غوږ شو؛

خو بيا خپلو ساتونکو ته يې امر وکړ چې دا سړی دروغ وايي؛

سر يې پرې غوڅ (قطع) کړئ!

پاچا لږ وړاندې لاړ او بل سړي ته يې وويل:

يوه پوښتنه در څخه لرم سم ځواب به راکړې؛

سړي وويل: سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا زما پاچاهي ښه ده که بده؟؟؟

دې سرې د پاچا سپکې او سپورې پېل کړې او وې ویل چې ستا پاچاهي ډېره بده ده...

پاچا د دِه سرې خبرو ته هم غوږ شو؛

خو بیا یې خپلو ساتونکو ته امر وکړ چې دا سړی هم رښتیا نه وایي؛

د ده سر هم غوڅ (قطع) کړئ!

پاچا حرکت یې وکړ یو څه نور هم وړاندې لاړ...

غوښتل یې چې د درېم کس څخه پوښتنه وکړي؛

پدې وخت کې یو ماشوم چې د پاچا او د دوېم کس د خبرو لیدونکی (شاهد) وو،

پاچا ته یې په خپل نَري (کوچني) غږ سره وویل:

زه ستا په ځواب پوهیږم!

پاچا د کوچني ماشوم پدې خبره ډېر حیران شو.....!

کوچني ماشوم ته یې وویل:

ګرانه! ته چې زما د پوښتنې په ځواب پوهیږې نو ویې وایه!

ماشوم ورته وویل:

ته زمونږ د کړنو (اعمالو) پایله یې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې زمونږ کړنې (عملونه) ښه وي نو ته به هم ښه یې او ستا پاچاهي به هم ښه وي،

که چېرې زمونږ کړنې (عملونه) بد وي نو ته به هم بد یې او ستا پاچاهي به هم بده وي،

د پاچا سترګې له ډېرې حیرانۍ سپینې را ووتلې...

کوچنی هلک یې ښکُل (چَپ) کړ او په غېږ کې یې ونیوُه.

خپلو ساتوونکو ته یې وویل: زه د همدې ځواب په لټه کې وم،

همدا زما د پوښتنې رېښتونی او سم ځواب دی.

**د کیسې مانا او مطلب:**

د نړۍ په یوې سیمه یا هیواد کې چې کوم حاکمان او مشران واک ته رسیږي په ډېره کچه د خلکو د کړنو (اعمالو) پاېله وي. په افغانستان کې هم پدې وروستېو نږدې څلور نیمو لسیزو (۴۳ کلونو) کې چې کوم حاکمان واک ته رسیدلي دي او هیواد یې اوسني وضعیت ته رسولی، زمونږ د (ملت یا خلکو) د کړنو ، د واکمنو حاکمانو رښتیا نه وېلو او خدمت نه کولو او د ملت او حکومت (دولت) د جلاوالي پاېله ده. څوک د کمونسټ، څوک د خلق او پرچم، څوک د راستي او چپي، څوک د میا او د مُلا، څوک د ډیموکراټ او خراساني او اوس بیا د میا او د مُلا په نومونو واک ته رسېدلي دي؛ هیله ده له همدا اوس سمدستي او په راتلونکي کې مونږ د ملت په توګه او حاکمان د هیواد مشرانو په توګه خپلې دندې او مسئوولیتونه په سمه توګه سرته ورسوي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یادَونه:**

که د لیکوال نور کتابونه او لیکنې غواړئ ولولئ، په کتابتون ویب پاڼې کې خپاره (خپرې ) شوي دي، نو لاندې آدرسونو او لینکونو ته لاړ شئ:

**د کویډ-۱۹ کرونا ویروس پټ رازونه (کتاب):**

https://ketabton.com/book/14784

**اوسني حکومت د راتګ په اړه لیکنه (کتاب بڼه):**

https://ketabton.com/book/14700

**له سود څخه ځان، کورنۍ، ټولنه او هیواد وژغورئ (کتاب بڼه):**

https://ketabton.com/book/14848

**وروستۍ ورځ له پندَ ډکه کیسه:**

https://ketabton.com/posts/772

**د بوډا سړي کیسه:**

https://ketabton.com/posts/735

**بریالیتوب ته اړتیا:**

https://ketabton.com/posts/678

**آیا امنیت (امن) د ژوند هر څه دي؟**

https://ketabton.com/posts/648

**د نړۍ سوکاله (آرامه) هیوادونه**

https://ketabton.com/posts/636

**آیا افغانستان په اقتصادي ناورین (بحران) کې دی؟**

https://ketabton.com/posts/610

**له تاسو ټولو لوستونکو څخه ډیره زیاته مننه بریالي اوسئ!**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**